# د خپل اوریګون eWIC کارت کارول

خپل بیلانس، د پیرود تاریخچې او نورو معلوماتو ته د اسانه لاسرسي لپاره، دلته ورشئ:

**www.ebtedge.com**

یا د مراجعه کونکو خدمت ته وړیا 24/7 تلیفون وکړئ:

**1-844-234-4946**




## پیل کول: د خپل کارت لپاره یو PIN انتخاب کړئ

مخکې لدې چې تاسې وکولی شئ خپل د اوریګون eWIC کارت وکاروئ، تاسې باید یو 4 عددي د شخصي شناخت لمبر (PIN) انتخاب کړئ.

### آنلاین ورشئ یا تلیفون وکړئ

- په 1-844-234-4946 شمیره د مراجعه کونکو خدمت سره اړیکه ونیسئ

یا

- د خپل 16 عددي کارت لمبر په لیکلو سره **www.ebtedge.com** ته ننوځئ




### یو PIN انتخاب کړئ

- تاسې باید یو 4 عددي د شخصي شناخت لمبر (PIN) د خپل کارت لپاره انتخاب کړئ.
- داسې یو 4 عددي لمبر انتخاب کړئ چې ستاسې لپاره یې په یاد ساتل اسانه وي مګر د نورو لپاره یې اټکل کول سخت وي.



### خپل PIN خوندي وساتئ

- خپل PIN بل چا ته مه وایی.
- خپل PIN په کارت یا کوم بل شي باندې چې تاسې یې د خپل کارت سره ساتئ مه لیکئ.



## د خپل کارت کارول

تادیات منې WIC تاسو کولی شئ د اوریګون په هر پرچون پلورنځي کې پیرود وکړئ چې د.

### د WIC خوړو پیرودل

- خپل د WIC خوړو مرستې بیلانس معلوم کړئ کله چې تاسې پلورنځي ته ورشئ.
- خپل د WIC خوړو لست وکاروئ ترڅو وګورئ چې کوم خواړه مجاز دي.



### خپل پیرود مکمل کړئ

- تل WIC لومړی وکاروئ.
- کتونکی پرېږدئ پوهه شي چې تاسې خپل eWIC کارت کاروئ.
- کله چې وغوښتل شي خپل 4 عددي PIN ولیکئ.
- خپل رسید وساتئ؛ دا ستاسې د مرستو بیلانس ښئ.



### د WIC پروګرام مقررات تعقیب کړئ

- تاسې د WIC پروګرام نه ایستل کیدی شئ که تاسې خپل کارت یا مرستې ناسمې وکاروئ.
- خپل د eWIC کارت، د WIC خواړه یا د WIC فارمولا مه پلورئ.
- د نغدو پیسو یا کریډیټ لپاره د WIC خواړه یا فارمولا بیرته مه ستنوئ.

WIC OREGON

## خپلې مرستې وپېژنئ

پدې پوهیدل مهم دي کله چې تاسې مرستې ترلاسه کړئ او دا چې تاسې په خپل کارت کې څومره لرئ.

### د مرستو موجودیت

- ستاسې مرستې د میاشتې په لومړۍ ورځ د پاسفیک په وخت د شپې 12:01 بجې شته کیږي.
- کومې مرستې چې مصرف نشي هغه بلې میاشتې ته نه لیږدول کیږي.




### خپل بیلانس چیک کړئ

- د خپل بیلانس چیک کولو لپاره، خپل وروستی رسید وګورئ، **یا**
- دې پاڼې ته ننوځئ **www.ebtedge.com یا**
- د eWIC مراجعه کونکو خدمت ته په 1-844-234-4946 تلیفون وکړئ، **یا**
- د پلورنځي راجستر کې یې چیک کړئ



### مرسته له کوم ځای ترلاسه کړئ

- ستاسې د **WIC خوړو مرستې په اړه پوښتنو لپاره**، مهرباني وکړئ خپل د WIC کلینیک سره اړیکه ونیسئ.
- ستاسې د **اوریګون eWIC کارت** په اړه پوښتنو لپاره، مهرباني وکړئ دې پاڼې **www.ebtedge.com** ته ننوځئ یا د eWIC د مراجعه کونکو خدمت ته په 1-844-234-4946 تلیفون وکړئ.



## خپل کارت او PIN خوندي وساتئ

که چیرې کوم څوک ستاسې کارت واخلي او ستاسې PIN ورته معلوم وي، هغوی کولی شي ستاسې ټولې مرستې وکاروي ـــ **او دغه مرستې بیرته نه جبران کیږي.**

### د کارت پاملرنه

- خپل کارت په خوندي ځای کې وساتئ، لکه خپله بټوه
- کارت مو مه کګروئ.
- خپل کارت د مقناطیس او بریښنایي توکو نه لیرې وساتئ.
- خپل کارت لمر ته مه پرېږدئ.




### د PIN خوندیتوب


- خپل PIN مه شریکوئ.
- که تاسې اړ یې کوم بل څوک ستاسې لپاره پیرود وکړي، خپل د WIC کلینیک نه د دوهم ستاسې د ډاډ وړ نفر لپاره د بل کارت ترلاسه کولو په اړه پوښتنه وکړئ.




### د PIN/کارت بدلول

- که تاسې خپل PIN هیر کړئ، په 1-844-234-4946 شمیره د eWIC د مراجعه کونکو خدمت ته تلیفون وکړئ یا دې پاڼې
- که ستاسې کارت ورک شي، غلا شي یا خراب شي، د eWIC د مراجعه کونکو خدمت ته 1-844-234-4946






**څه پیښیږي که زما خپل PIN هیر شي یا یې غلط ولیکم؟**
که تاسې څلور ځله خپل PIN غلط ولیکئ، نو ستاسې کارت به تر نیمې شپې پورې کولپ شي. تاسې کولی شئ د څلورم ځل هڅه کولو نه مخکې د eWIC د مراجعه کونکو خدمت ته تیلفون کولو یا **www.ebtedge.com** ته ننوتلو له لارې خپل PIN بدل کړئ. که تاسې خپل PIN بدل نکړئ، ستاسې کارت به په اتومات ډول نیمه شپه کې بیرته پرانیستل شي، په هرصورت د دې د کارولو لپاره بیاهم تاسې اړ یې خپل PIN وپیژنئ.

**زه څنګه کولی شم زما د WIC خوړو مرستې بدل کړئ؟**
ستاسې د WIC خوړو مرستو د بدلولو په اړه خپل د WIC کلینیک سره وغږیږئ.

**کله چې زه پلورنځي ته لاړ شم که زما نه زما کارت هیر شوی وي نو څه؟**
تاسې باید خپل د اوریګون eWIC کارت د ځان سره ولرئ ترڅو خپلې د WIC مرستې وکاروئ.

**که زه کډه وکړم یا زما پته بدل کړم نو څه؟**
تاسې باید خپل د WIC کلینیک سره اړیکه ونیسئ که چیرې تاسې کډه کوئ یا خپله پته بدلوئ.

57-1008 11/2022 Pashto